
# دسولي زمزمي




محمد هاشم زماني

# دسولي زمزمې

محمد هاشم زماني

۱۳۶۸ هـ ش/ ۱۹۸۹ ع

B
3.532
ZAM
4385



محمّد هاشم زماني

بسم الله الرحمن الرحیم

# اهداء

زه دا کتاب هغو افغاني ماشومانو ته چې د
جنګ په اورکې سوي دي
اهدا کوم.

زماني

۱

# دلوی خدای په نامه

شعر یو نقش دی، یو تصویر دی، یو انځور دی او یو تابلو ده؛ ژوندی شعر هغه دی چې دخپل وخت د ښکلو نقش، دخپل چاپېر تصویر، دخپل زمان انځور او د خپل عصر تابلو وي. او داسې شعر نه یوازې دا چې شعر وي بلکه تاریخ هم وي، دا روا پوهنې او وگړپوهنې یو باب هم وي او د ژوند ښکلو یو راپورتاژ هم.

د افغانستان خونړۍ لسیزې لکه څومره چې جنگونه او ننگونه درلودل، لکه څومره یې چې ښکلي او فاجعې درلودې همداسې یې د جهاد د سنگر د بېلابېلو شاعرانو سوځوونکي، درد   نکي، پارونکي، پاڅوونکي تصویرونکي او   مید بخښونکي شعرونه هم درلودل.

ښاغلی محمد هاشم زماني چې د افغانستان یو پخه سا او پخته کاره شاعر دی، په دې لسیزه کې تر ټولو لا فعال او کړندی و، او د دې ښکلو په اړه یې د هر شعرونه ویل

او د هرې دقلم او ښکلې پې ستوې کړې او په مېړنو غازيانو پې د برې د شعر ملغلرې ونښندلې. ده تراوسه په دې سنګرکې پنځه کتابونه هيوادوالوته وړاندې کړې او دا پې د دې لسيزې شپږم کتاب دی.

د ښاغلي زماني شاعرې خپل خاص مضمون او خپل خاص رنګ لرې خصوصاً د طنز سمبوليک ارخ پې ډېر پياوړی او په زړه پورې دی. د ژوند ترخه حقيقتونه د طنز په خوږه ژبه بيانول د ښاغلي زماني د شاعرۍ ځانګړې خاصه ده، ما شل دوه ويشت کاله وړاندې د ده هغه اسې يو طنزيه شعر د لومړي ځل له پاره لوستی و چې يو مسرۍ مې پې اوس هم ياده ده:

«دا دفتر دفتر نه دی يخچال دی»

او د زړې بيروکراسۍ د زړو، سړو او بې کاره دفترونو انځور پې پکې ايستلی و.

د ښاغلي زماني دا کتاب د خوږې لسيزې د ډېرا خونه په خپله غېږه کې لرې، د جهاد له سنګرونه د مهاجرت تر بستر پورې او د سياست تر دفتر پورې هر څه پکې شته چې ورسره - ورسره د خوږو طنزونو مالګه هم پرې ګډه ده. په مينه

ح - رفيع

۸۹/۹/۱۴ پېښور

دارواښاد عبدالخالق اخلاص منظوم لیک:

# جناب زماني صاحب ته!

ای زما ورور ره مشفقه زماني
شه نصیب دې په دنیاکې ښه ځواني
ستا پنځه ښکلې سپېڅلې کتابونه
ما ته راغله داوه ستا مهرباني
ما چې ولیدل په ستر ګو دېرې خوښ شو
آفرین ستا په افکارو وجداني
رالیږلې ماته تا پنځه غنچې وې
چې مې وکتې غنچې نه وې باغچې وې
مرموزات اواشارې د معنا دکې
د قطبي خرس په سینه ښخې برچې وې
تاویلات محتویات په هر ردیف کې
د رومي ښامار د قتل تفنګچې وې

مضامین ستا د تازه رزمي شعرونو
د جهاد د درس د پاره کتابچې وي
سرې خوره بلا دې خپلې کوڅې او خوړي
د زمرو غوښې سپکان خوړلی نشي

پښتانه د آزادۍ اول لمبر دي
څوک د دېنه هیڅ انکار کولی نشي

پرچمیان چې د خرسانو بېزوګان دي
پرچمي تر څوک افغان ویلی نشي
لمر په ګوتو نه پټېږي دا متل دی
بېزوګان د زمرې غار نیولی نشي

---

۱۹۸۶/۱۲/۱٤
۱۳٦۵/۹/۲۳ ع

اخلاص

ای زمانې تاته سلام زما — پس د سلام نه احترام زما
لویه شاعره دلوی قام زما — په غوږ وواوره دا پیغام زما

دقطبي خرس کتاب مې ولوستلو
د دې کتاب هر باب مې ولوستلو

تا چې ستایلي امیران دي وروڼه — دادراشن ټیکه داران دې وروڼه
مین په قام ندي په ځان دې وروڼه — واړه په بله لار روان دي وروڼه

خدایکو چې تا زرافشاني کړېده
په دوی دې ښه مهرباني کړېده

تا د وطن چې شهیدان ستایلي — تا ملغلرې دې په تار پیلي
شه آفرین چې تا دې ښه ویلي — ما هر یو شعر ته دې ډېر ژړلي

دقام شاعره تل لیکل کوه ته
داد جذبې نه ډک ویل کوه ته

زموږ وطن به آزادیږي هلته — د دغه خرس نه به خلاصیږي هلته
دخرس داړې به ماتیږي هلته — په ټیبنته به ستنیږي ـ هلته

دغه پارټۍ چې اتفاق وکړي
ښه په اخلاص سره الحاق وکړي

چې يو رهبر وي او شورا يو وي    زموږ پاڅون او هڅ خوا يو وي
زموږ ټوله مدعا يو وي    زموږ په ملک کې چې غزا يو وي

خدايګو که روس او پاکارمل ټينګ شي
خدايګو که خرس بيا په کابل ټينګ شي

که ټول په يو الله اکبر پوه شو    په رهبري د يو رهبر پوه شو
په قومانده د يو افسر پوه شو    که د اخلاص په لاس خنجر پوه شو

بيا به د ملکه نه خلقيان تښتي
بيا به هم روس او پرچميان تښتي

وايي "افګار" چې زه شاعر نه يمه    دومره په شعر کې ماهر نه يمه
آزاد لوى شوى يم اسير نه يمه    قايل د داسې يو امير نه يمه

خو ستا شعرونو په جذبه کړمه زه
په شعر ويلو پسې اخته کړمه زه

۵/۸/۱۹۸۱

# کامیاب یم

غولېدونکی د فرېب زه په سراب یم
پېښور جوړ شه تنورکې زه په عذاب یم
د باران نه ودربدلی یم ناوې ته
ښه پوه شوی زه د ځان خپل حساب یم
په دوه ګوتو آفتاب نشي پټېدلی
زه یې پټ کړی په دوو ګوتو له آفتاب یم
د ملي وحدت عظمت ته مې خطر دی
د نفاق په اور چې سوځم کباب یم
چې آغاز یې په نفاق زما دی کړی
په انجام کې زه ښکاره خانه خراب یم
د اسلام او د هجرت په نامه باندې
قرباني د خپل انصار عالي جناب یم
واک اختیار زما خپل ندی ښه پوهېږم
ودربدلی چې په غولي د قصاب یم

د دې دومره مشکلاتو سره بيا هم
آزادۍ پسې روانه په شتاب يم
زه به شم ټوټې ټوټې خو آزادېږم
مغلوب نه يم بريالى او کامياب يم

يونيورسټي ټاون - پېښور
د جنورۍ دويمه ۱۹۸۶

# یو افغان ماشوم

لکه پرخه په ګلونو پرېوتمه
د لړزوکې سره بیا نه ومه په ګلو
هسکه غاړه د چمن ګلان ولاړ وو
شور ماشور و، په چمن کې د بلبلو
د ژوندون کیسې کولې یو تر بله
بوراګانو د ګلونو په غندلو
د هر ګل د پاڼې مخ کې رنګیني وه
دنیا وه د نازولو ښکلو، ښکلو
په حیرت باندې سیل بین د منظر ووم
د ژوندون د مینې بڼ کې په لیدلو
چې ناڅاپه د نیپالم د بمونو
لمبې پورته شوې د اور د غوځېدلو
چاپېریال مې سره لمبه شوه سوزېدمه
ازادي د مینې نور مې ځلېدلو

یونیورسټي ټاون پېښور د مارچ پنځمه ۱۹۸۶

# زه شیدا پخپل وطن یم

زه هم ګل د یو چمن یم خندېدل چمن کې غواړم
که سنبل که یاسمن یم غوړېدل ګلشن کې غواړم

د مستی خپلې مستی کې غږوم سرود د مینې
د بلبل د خولې سخن یم چغېدل د من کې غواړم

لړ د حسن د ښکلا چې پلوشو کې خیره وکړي
د هغه مشعل لمن یم بلېدل په تن کې غواړم

چې په جاله د پتنګ کې سوزېدل د مینې وینم
د دې جالې د ول فن یم سوزېدل خو ګلن کې غواړم

د وطن د مینې نور چې سوله غواړي د جهان تول
زه شیدا پخپل وطن یم اوسېدل وطن کې غواړم

یونیورسټی ټاون ـ پېښور
د مارچ لسمه ۱۹۸۶

# ولې؟

د اور په تکنده غرمه کې ولې؟
تندې خوبې د تندې مړه والاړ دي
چې په غرمو باندې تږلې دې دا
نېغ چې د لاندې د چاړه والاړ دي
دغه تندې چې کې خوبې کلاله
د خپلو میاندو په خولو والاړ دي
چې آخور ونړې د بوسو بوک کړه
روی شیدې تولې زخمې زړه والاړ دي
د پادوان بچیه ورشه پسې
تندې خوبې دولسې چې امړه والاړ دي

یونیورسټي ټاون پېښور د جون د برشپه ۱۹۸٦

# دغلوډله

کور تالاکېږي زما
عالمه غلو نيولیم
سوچه انابينا يم
زۍ په رندو نيولیم
زه يې په سترګو وينم
چا د پښو نيولیم
څوک مې غوږونه نيسي
چا د اوږو نيولیم
څوک مې سرې تاووي
چا د وېښتو نيولیم
ځان خوځولی نشم
چا د لاسو نيولیم
د سياست په لټه کې
په دسيسو نيولیم

بهیږي ویـــني زمـــا
زړې په شکنجـو نیـولیم
دغې دمګی زمـــانې
زه په دو کړو نیـولیم
ملاصاحب دجومات
زه په توبـو نیـــولیم
دې خرابات مـــناجات
په مسخـرو نیـولـیـم
دغې دغلـو دړلــی زه
په لېونو نیـــولیـم

یونیورسټی ټاون ـ پېښور
داپریل پنځمه ۱۹۸۶

# د پسرلي دالاهي کیسه!

الاهي د سپرلي زلفي جوړولي
زلفي خپلي په ناز نازګومنځولي
سترګي خپلي توروڵي په کجلو
د زمرد وشني جامي يې اغوستلي
شنيلي يې استقبال ته ورروان ؤ
توتکي ورته په مينه چغيدلي
د شبنم داني پشان د مرغلرو
ګلدرو په ګل غوټويې وروڵي
قافلي د سروګلونويې په مخ کې
د جرس د نوبهار غږ يې تللي
ښکلاکانې د رنګينو منظرويې
وچ سپيره غرونوغرو کې ښکاريدلي
خوشبويي چې خوروله په فضا کې
د ختن نافې د مشکو شرميدلي

زمزمې دآبشارونو ترنګونو
خوریدلې غځیدلې مستیدلې
رقاصې دنوبهارې په حضورکې
په نازونو،کبرونو نخښیدلې
دنسیم په تخت سوره دسلیمان وه
درون لمر په پلوشوکې پې لمبلې
په رمزونو وه آګاه دکائناتو
پاس آسمان کې ورته وریځې غوړیدلې
په پیرو پیروشرونده ده پاتې شوې
دجهان په اسرارونو پوهیدلې
نور تاریخ دانسانانو دجهان کې
رنګارنګ عجیب صحنې پکې لیدلې
ماویل مه خه الاهې ودرېږه ه ماته
افسانې دغم مې زړه کې تیریدلې
ماپوښتنه دافغان ملت ترې وکړه
هاسرې وینې دزخمو چې بهیدلې
دوطن دمورلمن باندې سره غالۍ
سره یاقوت وکه سرې وینې څڅیدلې

په بمونږ دبې وزلو مظلومانو
دهغوی جونګړي ولې رنګيدلې؟

توک توک غوښې دجسمونو په څه بانـدې
دبمونو په شغلو کې سوځيدلې

ماشومان زخميان دخپلو ميندو غيږ کې
دهغوی کولمې څه باندې ځنګيدلې

دغمونو دا ستانونو ټولې پاڼې
په دقت مې ښې هغې ته ولوستلې

سرې جګ کړه په خدای راته ووايه
اوښکې سترګو کې دهغې ځليدلې

له آدمه تردې دمه په جهان کې
سره پرده دخونريزی ده غوړيدلې

هر خونکار د پيرې خپلې معلوم دارې
مؤرخ يې خونريزی صحنه ليکلې

تا قيصه دخپر غوبږ دوه فيلانو
دا تم د زمانې ده اوريدلې؟

په مزه به دا کيسه وکړمه تاته
په محور د دنيا نن دا چورليدلې

پدې تکه شنه ورشو ددې جهان کې
نوروره شپرغوږې دوه فیلان دي
په اوږد و شپرغوږ ونوکې گینگړې دی
جاگیردار د شنې ورشو ددې جهان دي
چې کوم کار یې د غوږ ونو گینگړې وکړي
په سالې روان بیا د واړه پر اسمان دي
دغوږونو په پرد وکې سپوږمې چورلي
خرتمونې لکه تورې اوږان دي
خرتمونه چې اوچت کړي دوی په قارشي
دسروونو سور سیلاب کې بیا روان دي
خرتمونه خپل چې وچورلي دسـرنه
ترېمار کې وار خطا ټول حیوانان دي
دخرتم دهر سوري منځ کې د نـه
سخت وژونکي توپانونه په طغیان دي
دخرتم دلاندې خولوکې غښتې دارې
دهر یوه خوله کې اتم د بم پشـان دي
په هرچا چې دخرتم غزار خپل وکـړي
سرې سکروټې پرانبار دی په سوزان دي

داړې ندی هوا بنو داتم دي
دجهان د شنې ورشو چې مالکان دي

په قوت د تېرو داړو خپل غره دی
په قدرت د زورو مغرور خپل ځان دي

خو تمونه چې کونتی او نجیله کړي
خولو کې ښکته ښباسي، ښاماران دي

یو ختیځ کې د ورشو دی بل لویدیځ کې
راوتلی رقابت ته په میدان دي

که ځنګلې که بحرونه د ورشو دی
د داړو منځ کې خپل ویشلی هر شیان دي

حیوانان د ځنګلونو کله وایي
دا فیلان خپلو منځو کې دښمنان دي

دعوه ګیر ذي دښمنی یې په ورشو ده
لالچیان دی نه مړیږي حریصان دي

هر یو وایي هم دا زه یم بل څوک نشته
د فرمان لاندې زما ټول ژوندي جان دي

کوراخې که کاوړې د ځنګل دي
د فیلانو د ورهم نه په لړزان دي

وارہ تبنتی اوتریږي د فیـــلانو
که اسونه دی که میښې که غوایان دي

دعاجزو حیواناتو ښرونډ په دار دی
دڅوندون کلان یې مړاوي دي خزان دي

کله کله دواړه ځان جوړوي جنګ ته
شي په ګونډو د واړه مست پهلوانان دي

دورډباب اولاپي شاپې وهي خپلي
حیوانان واړ روي نور دوی ټکماران دي

نعمتونه د دنیا د ورښو واړه
نیم د یړدی نیم دبل خوارزه دوستان دي

خوداسي دهر ضیلان ورک شي دي ورشوکي
دلعنت طوقونه خپل یې اوبړان دي

دجهان تاریخ ته بنه ځیرشه وګوره
ازادی نه چې قربان شي جاویدان دي

یونیورسټی تاون- پیښور
۲٤/۳/۸٦

دافغانانو شاعرانو په هغه مشاعره کې چې د خیبر بورډ کتابتون کې جوړه شوی وه ویل شویدی.

○

سر نـه ورکړم خو د يار ليدلی شي
سور پرهار د زخم ته که خپل خندلی شي

ځان که خلاصوي د غلامۍ د بدبختۍ نه څوک
مخ د توري سنګر کړي ازادي ګټلی شي

نور دا ازادي د ميني دار په سر منصور وليد
ته منصور پښان په دغه دار ځنګلی شي؟

يونيورسټي ټاون- پېښور
۲۵/۳/۸۶

# دشغال کیسه!

لټ مې شغال ته کېښنود ورپسې چې چرګانې زما
شغال مې ونه نیوه لټ کې مې خپل ځان ونیوه
دغه لاڅه کړې نشته څوک چې مې د لټ نه خلاص کړي
شغال راغلی اوس دکورنې ټول چرګان ونیوه
شغال کړې چیغې په دولوکې شغالانو ته نور
چرګان موخپل دی راشئ بل ماغت حیوان ونیوه
شپه وه زړګی مې لمسولې سباوون ته هسې
ربنا دژوند ته دهمت یې سپین میدان ونیوه
سپوږمۍ راختی وه رنبا وه څه تورتم غوندې شه
مخ ته زړوکی تورسپوږمۍ ژړ داسمان ونیوه
پوه شوم په ځان لږ څه اغیرالله(۱) پته غوندې شوم
چې شغالانو دکیس زما ګریوان ونیوه

---

(۱) الله پته: حیران او وارخطا .

د مرګ صحنه کې بې همت قهرماني جوړه کړه
لټ مې ټوټې ټوټې کړه ما ټول شغالان ونیوه
هغه شغال چې په شغالانو تې دولې وهلې
ما ویل زمرې ازاد چا کله بندیوان ونیوه
زه خو بازوان یمه چې ټوله ورځ بازان نیسمه
تا ګومان وکړو ګوندې ما ټول ګرګسان ونیوه

یونیورسټي ټاون - پېښور
د مارچ نهمه ۱۹۸۶

# د ټټو کیسه!

زین په ټټو سپه ده داشا توری ځغلوه
مه یې ده جوخره ورته په بوس یې غولوه
پام کوه نال بند ته یې د نال دپاره بونه ځي
ځانلا بس بنګرې د سوما نوغوځوه
ځکه چې ټټو خو بس ټټو دی آس کېدی نشي
پرې د قېنزې په ځای یې خوله کې واچوه
ته چې په ټټو نېزه بازې کوې خندا راځي
مه وهه نېزې اسمان ته ځان مه رسوه
ته چې خفه نه شې د ټټو څه جوړېدی نه شي
ځان خلاص کړه له دې دا تا ترینه غوړځوه
ته د مصنوعي سپوږمۍ د خیال بالون کې مه ځوړله
خوشې دبوډی په تال خپل ځان مه ځنګوه

بند په بند غوځېږي خو آخر به ازاد ېږي ته
سر د قصابي ساتول سره و جنګوه

ته نه مغلوبېږي ته شاهکار د ازادۍ مې يې
جال د فرېبونو د دښمن د ې ا څیروه

ختمه د تېښتو قصه شوه هسې به نه تېروتم
ورک هغه کاتب شه چاچې د السکلي وه

یونیورسټي ټاون - پېښور
د فبرورۍ دویمه ۱۹۸۶

دا افغاني شاعرانو په یوه مشاعره کې چې د خیبر بورډ کتابتون
کې جوړه شوې وه دا شعر ویل شوید ی.

# دسیاست چنجي!

کله در استه ژرندې د پل لاندې
کله دچپه ژرندې دچل لاندې
چورلی په ماچورلی دواړه پلونه چې
کله شم دیوکله دبل لاندې
دواړه ژرندې تا دسیاست خپلي
تینګې دی ساتلی د بغل لاندې
راوستم اغزوکې دې دېره کړمه
زه خوړ بره شوی اوم دګل لاندې
ژوند کولوما خپل داسمان په بام
ومنده لم تا محکې د تل لاندې
داځه سیاست د فرېبونه دی
کته دخره ن دي داس دخل لاندې
دادسیاست چنجي غونځېږي چې
غلادسیاست شوله دغل لاندې

یونیورسټی ټاون - پېښور ۸۶/۲/۴

# کینه ورکي

هغه سره چې کینه[۱] ورکي نشته
په غوښو یې نه دي لګي ښکاري
چې کینه ورکي مې لا لاسره شته
یې دي په غوښو چې دربېږ ښکاري
هغه دننګر لګي نیستي وهلي
شوندې چاودلي مخ یې خړ ښکاري
درېږ په غوښو یې هستي چې لري
دبوساري نه تاو انګر ښکاري
هغه او دغه انسانان دي دواړه
یو ژوندی ښکاري او بل مړ ښکاري

یونیورسټي تاون - پېښور
د فرورۍ لسمه ۱۹۸٦

---

(۱) کینه ورکي = روپۍ دی .

# دشکونو که

شکمن په تا شوم دشکونو که
چې زړه دې ما باندې تنګ شو ښکاري
سر دې اوچت شه چم ګاونډ کې اشنا
که په تهمت زما رنګ شوی ښکاري
زما دوینې دهر څاڅکي اثر
جونګړو ستا کې بلډنګ شوي ښکاري
دکورانګړ ستا ؛ دهډوکو نه مې
کلک د پولادو نه ټینګ شوي ښکاري
دزمانو دآزادي دیوې ــــــ ته
ولړ مې دیته پتنګ شوي ښکاري
زړه ټینګ کړه پام کوه بګراوچې نشي
په ما چمن ستا قشنګ شوي ښکاري
کفن مې سور دی ترې مه سپینوه
اشنا بیا خدایږو بدرنګ شوی ښکاري

یونیورسټي ټاون - پېښور
۲۲/۶/۸۶

# نن تیریږي

دډې خاوروپه ذروکې سکندر شته، افلاطون شته
سقراط شته، بطلیموس شته، هم چنګیز او ناپلیون شته

دتاریخ په لمن لغښتي دپیرو پیرو کیسې دي
توفاني انقلابونه دپیرو داو سېتون شته

دشاهانو کړې دی خاورې شوې ایرې شوې
دډې خاوروپه ذروکې ګردشونه دګردون شته

پاتې شوې تش نمونه دتاریخ دپانو منځ کې
عملونه دښو بدوپه تاریخ کې د مضمون شته

دافغان دوینو دندې کې دمسکو خرسان چې لامبي
نن تیریږي سبا به خو تاریخ پروت دپرون شته

دانګریز پشان خرسان به هم شړي دچل وطن نه
ازادۍ مشعل يې نه مري دافغان آزاد ژوندون شته

*یونیورستی ټاون - پېښور*

*دجنورۍ اوومه ۱۹۸۶*

# زما د ژوند تابلو!

ای زما د ژوند بـــا داره! غم نه ډک ژوندون دې راکـړ
ای زما د زړه واکداره! زړه زخمي پر خون دې راکـړ
دا دنیا ستا مې زندان شه
په ژوند دا مې گورستان شه

* * *

ای د پاس اسمان خاونـده! بې مثاله بې زوالـه
په اسمان کې ستا ستالـنده! څه شي تندر بې مجـاله
ستا د ځان عظمت ښکاره شي
ستا د شان صفت ښکاره شي

* * *

چې کوچنی وم په نـاز وم دمور غېږ مې ستا جنت وه
پوه د مینې زه په راز وم مینه ټوله مې زینت وه
د الفت مینې فضا وه
زړه زما کې تجـلا وه

غېږ نه پاڅېدم د مور چې — په خار پوځو پوځو تلمه
دروازې نه د خپل کور چې — کله زه راووتمه
یو ماحول نا اشنا و
ما ته ډک ټول د بنګلاو

❖ ❖ ❖

ځغلېدم را ځغلېدمه — شنیلو د پسرلي کې
پرځېدم راپرځېدمه — په ګلو د پسرلي کې
د مستۍ زما خندا وه
د هستۍ مې ستا دنیا وه

❖ ❖ ❖

چې به ما کتلې لمر ته — خندېدم به مستېدم به
چې ختم به د غره سر ته — مستېدم به خندېدم به
غم سره زه اشنا نه وم
خبر زه د هېچا نه وم

❖ ❖ ❖

د بلبل په چغېدو کې — هنداره زما د ځان وه
د غوټۍ په غوړېدو کې — تماشا د یو جهان وه
زه معصومه دې منظر ته
حق حیران وم ستا نظر ته

دسپوږمۍ ستوروماڼکه جهانونه ستاخوره پر دی
حرکت کړی پټول چابکه ستادحکم لاندې ګیردی
مخلوقات محکه کې ستا دی
کله دغه دبل چادی

* * *

مینې مستی رندانه وې نظاروکې دسروګلو
رنګینې دژوندانه وې ترانوکې دبلبلو
ژړل نه و ربتل نه و
دګل نه و، غندل نه و

* * *

ای زما دژوند معماره! مینه زړه کې مې ربښتیا وه
ای زما دژوند شاهکاره! زړه کې مینه پټوله ستا وه
چې هرڅومره لوئیدمه
غم سره اشنا کېدمه

* * *

ژړېدلم کړېدلم کړاوونوکې اخته شوم
درد پېدلم رنځېدلم عذابونوکې تخته شوم
داورتکې سرې لمبې شوې
زمانه پورې تمبې شوې

بیا مې تک تور زندانونو سره سر شه پکې ګیر شوم
هلته بیا په ځنځیرونو وې تړلې اسیر شوم
هلته ویتول زخمي زړونه
فغانونه و، آهونه

* * *

زندان نه و، یو دوزخ و، فشارونه و، شکنجې وې
دجهان دظلم مخ و، دعذاب داور پنجې وې
داور بلې سرې لمبې وې
ودرېدلې غرغرې وې

* * *

دانسان قدر خزل و، ظلم جهل حکمران و،
هلته دبراورېد منزل و، جاکرونه و طوفان و،
رسېدل منزل ته ګران و
توفانونه په طغیان و

* * *

ای خاونده زورورو! یې په ټولو زورور و
ای مالکه بختوره! یې د ټولو بختور و
تا مشکل زما اسان کړ
خلاص چې تا ماته زندان کړ

چې یوځو قدمــــه ولاړم — بټول ماحول جېلخـا نه وه
چې مـرادې چا نه غـواړم — بس یوتشــه افسـا نه وه
پوه شوم زه په رمـوزونـو
د ظلمـونو او جهلـونو

٭ ٭ ٭

چې کتلې مې خپل کـور ته — ما ته کـور ښکاره کېده خپل
چې کتلې مې خپل ورور تـه — پردی ما ته ښکارېده بل
لا رمې نه لېـده تورتم و
رڼا نه وه بس لـوی غم و

٭ ٭ ٭

ای واکـداره ګـل مختـاره! — ماغوښتل چې هرڅه سم کړم
ای نامداره ګل مختـاره! — چې دژوندنه ورک یې غم کړم
دخپل کورد یوال اوچت کړم
زه آباد دا په سـرعت کـړم

٭ ٭ ٭

زه دکورپه جـــــوړولـو — لګیا وم کارمې کولو
دلوی غم په رغـولـــو — لګیاوم زیـار مې کولو
چې مې کورنه بیا ، زیبا شـي
اوچت قصرشي زمـاشي

چې کتل مې سور ښامار دی — سور سیلاب کې راروان دی
دا خونخواره دېره قـاردی — خوله کې پروت آتشفشان دی

زړه مې وښکدم له کوره
دا رانسوت په زوره

* * *

دا زما په کور دېره شه — زړه مې کوره بې اسرې شوم
ښکلی کورمې هدیره شه — کورکې خپل قطرې قطرې شوم

دا ښامار دکورنه باسم
ځان مې خوله کې ننباسم

* * *

نې پرېږدم خوله مې شیرومه — ځان مې خپتې ته تېرومه
کولمې باسم خېټې شلومه — عالمونه ترې خلاصومه

وژم داسې ښاماران زه
قربانی باندې دځان زه

* * *

زما کور دسولې کوردی — آزادي سولې سره ده
دظالم خونخواره کور دی — غلامي مې هدیره ده

اتل زه دزمانې یم
دجهان دافسانې یم

ای باداره! زما هڅې!　　وینه تر څنګه ژوندون کړم
د مړو، مو دوراهسی　　څه پسې چې زه لټون کړم

هغه څه دی ستا سبادی ده

ازادی ده، ازادي ده

پېښور- یونیورسټي ټاون
دجنوري دولسمه ۱۹۸۶



# دچرت تال

ځانګه دچرت په تال کې، زه په چرګ سورشوی یم
کورپښان فضاکې زه په چرګ باندې خپورشوی یم
چرګ دی اوکه تخت دسلېمان په هوا ځمه زه
شین چترکې دوب پاس په هواکې مخمورشوی یم
هره خواچې ګورم ګلدرې دي مهوشانې دی
خلاصې مېخانې دی دمستۍ نه مسرورشوی یم
لاس کې دی جامونه دمستانو په مستۍ کې دی
زه ټولو مستانو ته ویشګړی[1] منظورشوی یم
یوخواډک جامونه بل خوا ناز د مهوشانو دی
ځان رانه هېرشوی دمستۍ نه نسکورشوی یم
ګورم ناست په مځکه دوطن یمه جشنونه دی
زه دازادۍ دساز په ټنګ او ټکورشوی یم
سرچې مې راپورته کړ نه چرګ ؤ نه وطن زما
داؤ پېښور زه د وطن په نوم تورشوی یم

یونیورسټی ټاون-پېښور- دجنوري اسمه ۸۶

(۱) - ویشګړی = ساقي

# انسان شه

ستا دځان پښانې زما ځان واخله
ګران که دې ځان اخلې زما ګران واخله
ته به سبه ښکاره شې دروند به پاتې شې
ځان پښان دې ځان دهر انسان واخله
تا باندې که دې کې څه تاوان راغی
بیا نو ته زمانه خپل تاوان واخله
پوړ دې ده دا کوچنې جهان انسان شه ته
پاس اسمان کې ځانته بل جهان واخله
دا څه خونریزي دې شروع کړې دی
ستا پښان خو ټول ځناوران واخله
نور جنګونه مکوه هوښیار شه ته
عقل دانسان نه امتحان واخله
ته دکهکشانو جهانونو کې
ځانته غټ جهان دکهکشان واخله

یونیورسټی ټاون ـ پېښور ـ دجولائې دیارلسمه ۱۹۸٦

# د پنځو ځنا ورو ژوبڼ

دا موزیم د چا موزیم دی
چي یې سر په اسمان لګي
داسمان د سر د پاسه
په لا نور کهکشان لګي
دا د کوم معمار بنا ده
نور د هر چا په ځان لګي
د پیرو پیرو را هسي
چي پدې سخت توپان لګي
عجیبه شانته معما ده
حل یې یو شان بل شان لګي
د نقشونو هر رواق کې
شمعې بلې روښان لګي
تماشې په ننداروکې
ننداري چي په میدان لګي

چې د ګلو په چمن يې
هم بهار او خزان لګي
د نښو په ميخانه کې
چې رندان او مستان لګي
دوه پښېزه څناور ښتول
د موزيم باداران لګي
څناور څلور پښيزه
ښتول د دوی غلامان لګي

دوه پښېزو څناورو دا موزيم دی
چې جوړشوی له قديمه نه عظيم دی

د جنګونو خــــر یمـــو یې
نه حساب شـــته نه کتاب شته
په خړاو کې دخـــــوړلـــو
په یـــو بـــل باندې شتلب شته
په ضعیـــفه ځنــــــاورو
د قـــویانو سخت عتاب شته
ویږو چینــلوکې د شـــور یې
دلمبـو د اور عـــذاب شـــته
ســـروسکروټو په انګار یې
جوړ دغــوښـــو نه کباب شته
ځناور ښلور پښـــــیزه
د هریو زړه کې خوناب شـــته
دوه پښـــیز په زوروړ دی
چې د زور یې خپل القاب شـــته

ځناور وپه موزیم کې
د پنځو د زور حساب شته [1]

په جلسو کې سنبکارندویه
برتري د هر جناب شته

یوګروبجه شان طلسم
د فریب نه ډک سراب شته

کل مختاره د موزیم دی
نه تري سوال او نه ځواب شته

دا پنځه د هر زوروره ځناور دی [2]
هو یې (هو) ده نه یې (نه) د هرزورور دی

* * *

د موزیم په غټ تالار کې
چې شروع کړیا خپلې غونډې

حق د ټولو مساوي وي
په جلسه کې وهي منډې

د عشرتو په جنجال کې
شي خبري رابربنډې

---

(۱)- پنځه حکومتونه چې د ویټو حق لري. (۲) په ملل متحد کې د ویټونه عبارت دی.

چې جلسه کله سوری شي
بیا وراچوي څه کنډې
ځکه هر یو د پنځو نه
په جلسه وهي ملنډې
هر یو خپله کیته غواړي
لکۍ کاڼې نیسي جنډې
وایي (نه) بس هر څه نه شي
رغړوي جلسه کې کنډې
ځناور د دوی له داره
شي ساکاڼې لنډې لنډې
په ژړا شي راروان شي
د موږ یم له هرې ځنډې
جلسه خلاصه په یو (نه) شي
الوځي پې شي ارنډې
دموږیم اوس هره برخه دکتوده
ازادي او نیکمرغي د دې پخوده

یونیورسټي ټاون - پیښور
د جولای پنځمه ۱۹۸۶

# ځان غولول دي

اعتماد په روس کول ځان غولول دي
غرلمن کې اچول ځان غولول دي

په تاویلو په ماویلو ئې مه غولېږه
پاس اسمان راغونځول ځان غولول دي

لور په لوته باندې کله تېره کېږي
لور په لوته سولول ځان غولول دي

دېرو پېرو وړاندې يرغلګر دي
ځان په اور کې سوځول ځان غولول دي

د موده و موده وړاندې تجربه ده
روس ته ځان نږدې کول ځان غولول دي

اشنايي دلبوه سره ؛ روس سره نده
ځان په روس خپل ماتول ځان غولول دي

کوم چې نشي والوره دا ؛ که نه يې اوري
خپل غوږ ونه غوځول ځان شرمول دي

يونيورسټي ټاون - پېښور - دجنورۍ اتمه ۱۹۸۶

# نامردي

تا داغزو په جاخ کې ومنډلم
ما خو ګلونه بوېيول غوښتل

زه د ګل بوټي خواته ودرېدمه
ګلان مې کله شوکول غوښتل

ما ګرد چاپېره د ګلونو اغزي
ټول له ګلانو غوڅول غوښتل

جاخ کې ایسار داغزو دې کړمه
ما خو ګلونه سنګلول غوښتل

څولۍ څولۍ ګلونه ورژېدل
ما په څولۍ کې اچول غوښتل

چې رژېدې په سر ګلپاڼې زما
زړه اسویلو مې ژړول غوښتل

نامرده ستا د نامردۍ د لاسه
زړه مې پرې وینې څڅول غوښتل

یونیورسټي ټاون - پېښور - د جنورۍ دریمه ۱۹۸۶

# د آزادۍ ناوې

چې دې سر خپل لہ تنې نہ جدا نہ شي
ازادۍ ناوې بہ خپلہ هېڅ ستا نہ شي
ازادۍ نیالګی بہ وینو تہ خړوب کړه
چې نړغون شي سم رسا د اخطا نہ شي
چې اغزي جاروکوي په ېنو نہ شي
ازادۍ لاره بہ ستا هېڅ صفا نہ شي
پہ ژوندینې کہ ځان وژنې نو غلام شہ
چې خلاص هېڅ دغلامۍ د بلا نہ شي
چې ځان نہ شي لمبوی پخپلو وینو
ازادۍ ناوې سره بہ پخلا نہ شي

یونیورسټي ټاون پېښور

د فروري شلمہ ١٩٨٦

○

ازادي جنده دې زړه کې لکه ښکاري
د وطن شهيد يې لکه څـــکه ښکاري
شمله جګه دې نيولې په سنګرکې
ستا په وينو ده سره څکه جګه ښکاري

د جنورۍ لسمه ۱۹۸۶

○

د چورلندي پشانې تاته چورليږي نشـــمه
زه د غلام ابن غـلام بنده کيږي نشمه
زه د ازاد انسان په نوم دنياکې ځان پيـــژنم
سرې اسمان ته رسي چا ته ټيټيږي نشمه

د جنورۍ لسمه ۱۹۸۶

دزړه زخمونه رسم په شفق باندې زما دی
په چوپه خوله شفق ته چې زخمونه مې ګویا دی
خندا د هر پرهار نه مې شرمېږي برېښنا ځکه
رشکونه، د خندا نه یې چې زړه کې د برېښنا دی

یونیورسټي ټاون
پېښور
١٩٨٦

# ماته خطر ښکاري

ستا دسترګو نور کې ستا د ظلم خنجر ښکاري
خبښ شوي ستا د لاسه چې زما په ځيګر ښکاري
درياب زما داوښکو کې ساحل نه معلوميږي
ساحل چې يې سراب اوس دا زما په نظر ښکاري
دزړه هر يو پرهار يې جوړه کړې خوله خندا ته
سلګۍ سلګۍ زما چې د زخمي زړه په سر ښکاري
چې څريکې د زخمي زړګي يې جوړې غلبلې کړې
موجونه توپاني زما په اوښکو کې غر ښکاري
د سترګو نور ته ځير شه ته زما پښکي وګوره
په اوښکو کې د سولې راختلې يې لمر ښکاري
د سولې په اسمان کې ازادي دامن ژوند شته
چې نوې ازادي په ژوند کې ماته خطر ښکاري

يونيورسټي ټاون - پيښور
د مارچ دويمه ١٩٨٦

# همت

دنیا کې مې ژوندون ټول دغمونو سره دی
دردونو دسوزونو دریځونو سره دی
زما داوسېلود توفاني موجونو منځ کې
د زړه پرهار غوټه مې د موجونو سره دی
قطرې، قطرې ټوک، ټوک د بېدردانو پېدړ کړم
په برخه چې مې ژوند ټول ددردونو سره دی
ژوندون دبندګۍ دغم دبند سېزلی ما دی
ژوندون چې مې ازاد دسرودونو سره دی
همت مې عذابونه ددنیا ماتوي نشي
که هرڅو مې ژوندون دعذابونو سره دی
که زړه مې انګارونو باندې سوځي هېڅ غم نشته
چې زړه مې سمندر دانګارونو سره دی
دژوند کشتۍ زما که توفاني دریاب اخستی
ژوندون زما اشنا دتوفانونو سره دی

یونیورسټي ټاون، پېښور - د جون څلورمه ۱۹۸۶

# بلېده ماته

کوهسارکې دا بشار په سر بلبل چغېده ماته

نسیم په لګېده وحشي ګلان غځېده ماته

دستور و اشارې د مینې جوړه ننداره وه

کتلې مې هر ستوری د اسمان خندېده ماته

د ناز په خرابه خوب دازادۍ باندې بېشوم

د مینې د شاهکار د ژوند نغمه غږېده ماته

دنیا وه مینه، مینه بې له مینې بل څه نه و

د مینې د هستۍ مستۍ رڼا ځلېده ماته

اسمان تر داور و نو بر بېښنا کانې راختلې

د سور اور د غضب تندر چې وغړېده ماته

لمبو کې د غضب د تندر زړه چې سوزېده مه

په زړه کې مې مشعل دازادۍ بلېده ماته

یونیورسټي ټاون - پېښور

د جون نهمه ۱۹۸۶

# دکوهسار وږمه

دکوهسار وږمه خوشبویه دسحر یم
دنیکمرغه بختور ژوندون ثمر یم
چې یې مینه دتقوی نقشونه جوړ کړي
دهغې مینې دنقش زه اثر یم
حوادثو سره لاس په گریوانه یم
عذابونو مشکلاتو سره سر یم
هیڅ توپان دحوادثو یې ورانښي
دپولادو چې محکم وي یا هغه غر یم
چې رڼا، رڼا ذره یې سوله غواړي
پلوشه دژوندانه دهغه لمر یم

یونیورسټي ټاون - پېښور
دمارچ دویمه ۱۹۸٦

# دخندا پہ سترګو

جهان ته وګورم دچا په سترګو
ظالمه ستا او که زما په سترګو

نورتم دي ما باندي دنيا جوړ کړه
نشم ليدی رڼا دنيا په سترګو

اوښکي دسترګو مي په زړه بهيږي
څکه مي نه راځي ژړا په سترګو

دسترګو نور مي تا په اوروسيزه
څکه مي ورکه شوه رڼا په سترګو

په انسان مجسم غونډي شوم
دنيا کي زه دهر بينا په سترګو

دنن په سترګو راته مه ګوره ته
وګوره ما ته دسبا په سترګو

زمازخمونو ته ژړا مه کوه
ته ګوره دي ته دخندا په سترګو

يونيورسټي ټاون- پېښور- د مارچ دريم ۱۹۸۶

چې ودرولې په یوه، یوه پښه باندې یو
عالم ګورې دا د روس د مساوات نخښه ده

دا چې وژلې پر کښې او خپلخانې دې زمونږ
د خونخوار روس د ظلم دا جنایات نخښه ده

بدې وهلې جنګ ته سوله په جهان کې غواړي
افغانستان کې یې نن دا د لوی اثبات نخښه ده

یونیورسټي ټاون ـ پېښور

د دسمبر اته ولسمه ۱۹۸۶



# بغاوت

غلامي باندې زه کله قناعت کړم
ازادي ته د وطن خپل اطاعت کړم

یم بادار غلام نوکر به د چا نشم
یم انسان، انساني ژوند د کرامت کړم

ازادي د شور ماشور په زحمت خوښېږم
غلامي په خاموش ژوند کله راحت کړم

سرمستي مې بدمستي د ازادي ده
قرباني باندې په مینه رضایت کړم

ازادي پسې باغي او یاغي بنیم
ازاد ژوند خوښوم زه چې بغاوت کړم

یونیورسټي ټاون - پېښور
د اپرېل لسمه ۱۹۸٦

# د دښمنۍ اغزي

اغزي د دښمنۍ دیوې مخې ورېبه
د زړه بڼ کې ګلان د محبت خپل وکره

د مینې په هستۍ دې ژوندون جوړ نېکمرغي کړه
په زړه کې عاطفه ته د رقت خپل وکره

وژل دانسانانو د ښمنۍ نه څه جوړېږي
دوستۍ تخم دې زړه کې په الفت خپل وکره

د جولای دریمه
۱۹۸۶

# زخمي ماشوم

معصومه تبسم مې ترجمان د سولې دی
په زړه کې مې د مينې ټول جهان د سولې دی

رڼا چې پلوشې د ملر په غاړې وشيندي
هغه افق مې زړه کې پراسمان د سولې دی

په غېږ غېږ ستړګو په څير څير ماته وګوره
جنګ نه غواړمه زړه کې مې ارمان د سولې دی

يونيورسټي ټاون - پېښور
د جنوري شلمه ۱۹۸٦



# جنګ غندی

دا بلبل د چا د لاسه زخمي شوی
چې ابشار ورته په شور شور باندې ژاړي

د نیپال په بم یې ځاله سو ځېدلې
زخمي شوي مور او پلار چې د واړه غواړي

•

جنګ غندي دا منتظره ناست دی دېته
چې پیغام د سولې څوک به ورته راوړي

یونیورسټي ټاون پېښور
د جنوری پنځه ویشتم ۱۹۸۶


HAN
DICAL
AID

# دسولې فرشته

دوحشي خونخوار بربره روس د لاسه
ړنده شوم زه به ټول عمر ړنده یم

دا ربړا دنیا یې ماباندې تورتم کړه
ترهغې چې زه په دې دنیا ژونده یم

ترو بړی کې زه دسولې فرشته یم
د ربړا د ختمولو پسې چې جوینده یم

یونیورسټي ټاون پېښور
د جولائي لسمه ١٩٨٦



# خونکار ښکاري

ای خونکار ښکاري ظالمه تا ته وایم
ته په څه باندې معصوم بلبلان وژنې

د ژوندون بڼ کې یې غږ لا کړې نوی
په خنجر د ظلم ته ماشومان وژنې

اخلې خوند د دوی د وینو د څښلو نه
تېز خنجر باندې چې دا معصومان وژنې

یونیورسټي ټاون پېښور
د جولا ئي دوولسمه ۱۹۸۶

لکه چې شین چمن په اورو سوزي
ښکلا یې لاړه شي ایرې پاتې شي

د حسن مینه یې د ژوند په چمن
خاورې ایرې خړې سپېرې پاتې شي

سوزي ژوندی، زخمي بوټي، بوټي وي
زړګی یې غوڅ اړې پاتې شي

لکه چې څه سیلاب اخیستی وي څوک
سیلاب یې وړي دا یې اسرې پاتې شي

ژوندون یې هېڅ د خطرونو نه شي
ژوند کې یې ټولې خطرې پاتې شي

١٩٨٦
یونیورسټي ټاون پېښور د جنورۍ لومړۍ

○

د ظالم ښکاري چې ښکار شوم
د سرو وينو غرځه کې پرېوتم

په سلګو، سلګو شوم ستړې
د خزان پاڼې پشان ورژېدم

د اميد د ژوند رڼا ته
سوځېدمه لکه شمعه ژړېدم

يونيورسټي ټاون پېښور
د جنورۍ لومړۍ ورځ ۱۹۸٦

غوټۍ د ژوندانه د ګل مې ونه غوړېده
بهار کې په خزان شه ځکه داورژېده
د ژوند بڼ کې جلوه د طراوت زما ونکړه
د خاورو نه سر دا چې پرېوتله ژړېده

يونيورسټي ټاون پېښور
د جنورۍ اولومړۍ ورځ ۱۹۸۶

وږمه خوشبويه د سحر په چلېدلمه زه
لکه شبنم د ګل په غېږ کې ورېدلمه زه

ما د تنکيو ځوانيمرګو ارزوګانو کيسې
د بلبل غوږ کې مې ويلې سوځېدلمه زه

د زخمي زړه ځړېکو مې شور او غلغلې جوړې کړې
توپاني موج کې بيا د وينو لمبېدلمه زه

پېښور يونيورسټي ټاون
د جنورۍ دوېمه ۱۹۸۶

چې دوینو په چینوو باندې عادت شي
تندې کله په اوبو باندې ماتېږي

د ډوډۍ په ځای چې غوښې دانسان خوري
سات په سات یې ولږه لا پسې زیاتېږي

عاطفه چې زړه کې نه وي کاڼی بوله
کاڼی ډېر په غرو رغوکې پیداکېږي

پېښور- یونیورسټی ټاون

دجنوری دویمه ۱۹۸۶

# داشنې ځنګلې مه سوځه

مه سوځه ، نور مه سوځه .
داشنې ځنګلې مه سوځه .
دا د ځګو غرونو په سرونو پاس ولاړ دی .
غرونه د زمرو دو پشان شنه ښکاري
دا د طبيعت ښکلا ده ؛ هلته پټ رمزونه دي
د ېکې د ښکمرغه ژوند د پاره سرودونه دي
او ور دې اچولې ورته ولې په څه باندې ؟
ته ښکلا د طبيعت سوځې .
رونند نه يې ورته وګوره ، ښه وګوره !
چې
سرې لمبې د غرونو په سرونو جوړې کړې تا
ژوند ته غرغرې د خطرونو جوړې کړې تا
دا د اور لمبې د غرو په سر مرې کړه
ظلم د وحشت دغه لړه پرې کړه

جنګ او خونریزي دې نور بس کړه ته
نور دا انسانان مه وژنه ؛
معصوم ماشومان مه وژنه
ښارونه، کلي مه ړنګوه ؛
شنې ځنګلې مه سوځه !
شنې ونې چې سوځي ؛ پاڼې شور کوي، فریاد کوي،
سوله ارامي غواړي چې وايي دا
دا طبیعت ښکلا ده
هره پاڼه شنه دنیا ده
د هره زیاته دا زیبا ده
دا لکه د ژوند رڼا ده
مه سوځه ؛ نور مه سوځه !
دا شنې ځنګلې مه سوځه !
هستي د ژوندون مه سوځه

یونیورسټي ټاون پېښور
د جنوري دریمه ۱۹۸۶

# منظره!

ګل غوټۍ پشان په خوب باندې بیده وم
منظره د نسیم په وینښېدو وم

د ابشار شور ته مې غوږ و خپل نیولی
د بلبل چغار ته زه په مستېدو وم

چې د روس خونخوار په م باندې زخمې شوم
د بدن وینو کې بیا په غرقېدو وم

یونیورسټي ټاون پېښور
د جنورۍ نهمه ۱۹۸٦



# اعلان دسولي دی

دزخمي ماشوم څیرې ته چې ترګورې
ترجمان د دې جهان دسولې دی

هر یو زخم يې د زړه په چیغو چیغو
دنیا والو ته اعلان دسولې دی

لعنت وايي په ظالم جګړه مار باندې
ازاد ژوند کې يې ارمان دسولې دی

یونیورسټي تاون پېښور
دجنوري نهمه ۱۹۸٦



په کارنـدی دنیاکې نور وژل دانسانانو
دجنګ په اور لمبو بانـدې سیزل د انسانانو
انسان دتباهۍ نه بل څه نشته دی په جنګ کې
په سوله باندې ښه دی ژوندکول دانسانانو

یونیورسټي ټاون پېښور

دجنوري دریمه ١٩٨٦

# دسولې مظهر

دعظمت اوکرامت په نامه باندې
دانسان انسانیت په نامه باندې

چې مظهر دسولې جوړشي په جهان کې
ازادي درسالت په نامه باندې

نوم به محوه دظلمونوخونریزې شي
ژوند دسولې عدالت په نامه باندې

یونیورسټي ټاون پېښور
دجنوري یوولسمه ۱۹۸۶

# ژوندی بت

بې لاسونو روند په سترګو ژوندی بت یم
په دنیا دانسانانو کې اوسېږم

ټول دردونه ټمومې دژوندون شوه
چې دنیا دخونخوارانو کې اوسېږم

زه د ټول جهان دپاره سوله غواړم
کوره څنګ په عذابونو کې اوسېږم

یونیورسټي ټاون پېښور
دجنوري یوولسمه ۱۹۸۶



# دازادۍ رمز

جوړکه داوسیلومې زخمي زړه ته ورغله
قطرې دزړه زخمونوته زما په ژړا شوه
په سرې اور د شمعې پشان بل شه ژړېدوکې
زخموته یې زما دزړه ؛ رڼا په ژړا شوه
چې څومره ژړېدله خندېده رڼا رڼا شوه
رڼا یې سوځېدوکې له خندا په ژړا شوه
هرزخم مې دزړه په وازه خوله ورته خندلې
اسمان کې دخندا په ځای برېښنا په ژړا شوه
چې لاس دازادۍ دناوې سره ځلېدل هلته
بقاته دژوندون خپل دحیا په ژړا شوه
دژوند دازادۍ په رمز دومره غوندې پوه شوه
فنا یې شوه بقاء ؛ دمینې دا په ژړا شوه

یونیورسټي ټاون پېښور
دجنوري دیارلسمه ۱۹۸۶

# زما د وینې داره

که زه د نیم بسمل پشان پرڅېږم پروا نشته
زما د وینې داره ستا په مخ پرېوځي ده
په مخ به دې زما د وینې داره ورانه نشي
لکه د بدنامۍ داستا په مخ نښتي ده
ماتې د ظلم زور دې نن سباکې راښکاره کړي
چې داره تېروېږي ستا د زړه نه وتي ده
ذره ذره د وینې مې کړیانه د بقا ده
هستي کې د مستۍ د ژوند بقا کېږي ده
هر څاڅکی کې د وینې مې سرکش عظیم توپان دی
سیلۍ یې د غضب ستا په طرف الوزي ده
د دې عظیم توپان نه د غضب خلاصېدی نشي
ذره ذره زما د ازادۍ راوتي ده
د لمر د ازادۍ ستر که زما د زړه اسمان کې
شغلې د ازادۍ وهي ، رڼا راختي ده

یونیورسټي ټاون پېښور دجنوري څوارلسمه ۸۶

کاروان چې مې د ژوند منزل ته ونه رسېده
جرس يې په منزل باندې، خپل ونه غږېده
تنکې هيلې مې ټولې ځوانيمرګې نيمه خوا شوې
ساربان په نيمه لاره کې کاروان چې پرېښوده
د غم څو ستړو ستړو او سېلوبې زړه ته ووېل
په غير د درد و غم نه دې بل هېڅ ونه لېده
چې څومره مخکې تلم هومره منزل به مخکې لاړه
سراب د فرېبونو راته مخکې ځلېده
خبر د فرېبونو د سراب نه کله زه وم
منزل ګڼلو ما زړه په زما وغولېده

يونيورسټي ټاون پېښور
د جنورۍ څوارلسمه ۱۹۸۶

# دجنګ په اورکې

دجنګ په اورکې سوځېدلې یمه
ډېر پرځېدلی، څورېدلی یمه

لکه د سور جوش کړای په منځ کې
دکب پشانې ترکسېدلی یمه

پدې دنیا دخونخوارانو کې زه
ډېر غم ځپلی، دردېدلی یمه

دنیا دسولې عدل غواړمه زه
دجنګ د اور دنیا سېزلی یمه

یونیورسټي ټاون پېښور
دجنورۍ څوارلسمه ۱۹۸۶



# ماخندلی، ماخندلی

زه د مور په غیږ کې پروت وم.
ما د مینې د ناز شربت زده کړله.
مور خندلې خپلې ما ته، ما هغې ته
بې له مینې د مستۍ نه بل څه نه وه،
هلته، هلته
هو! خندا وه؛ هو خندا وه.
ځکه، ځکه چې خندا د مینې خپله په غښا وه،
د ژوندون زمزمه مسته ازادي وه محبت و،
په خنداکې پروت د مینې پټ اسرار د طبیعت و؛
په رښتیا چې
بختورنیکمرغه ژوند و، زما هلته
الهٔ د عشق او مینې مې د سرو شونډو شفق ته؛
د ژوندون صبح صادق ته امید واره ناسته وه

دآسمان دبام نه پاس، پاس
د افق په کنارو کې
سراوچت دژېړې لمرو،
داسمان په منارو کې
دسروزرو پلوشې يې
رڼا گانو ته شیندلې
ماخندلې، ماخندلې

⁂ ⁂ ⁂

الٰهه دعشق اومينې؛ ناسته وه رازونیازته
دهستۍ دژوند په طمعه؛
دنیکمرغه ژوندون سازته
نغمه مسته دسرود يې داعجازوه ترجمانه
په ځېرځېر دپاکې مينې هغه وه ماته گويانه
زما سترګو کې دمينې دچراغ بلې رڼا ته
دسرورشغلې ورتللې دهغې دزړه دنيا ته
دمستۍ په هنګامه کې؛ حماسه دترنم وه
دهستۍ په علامه کې کلخانه دتبسم وه
دژوندون نرۍ کې بل څه، هلته نه و؛
نه غمونه؛ نه دردونه؛ نه جنګونه

بس یوا ځي دژوندون دنیا وه مینه ؛
کومه مینه ؟
هغه مینه ؛ ریښتیا نی ؛ انساني مینه ؛
چې عظمت اوکرامت د انسان غواړي
بختور ژوندون دسولې په جهان کې
د معصوم انسان دپاره ؛ لکه زه
جنتي زانګو مې غېږ د الٰهه وه
پکې ماو هل ټوپونه ما ځنګلې
ماخندلې ، ماخندلې

* * *

یوناڅاپه ؛
الٰهه دعشق زما جوغدی جوغدی شوه
د ظالم خونخوار دسره اوږ په سکروټو
ماکتل په غمتو ، غمتو
زه یې غېږ کې وم نیولی هغه سوله ؛
دظالم خونخوار انسان دسروسکروټو په لمبوکې
بیا زما د نوږ د سترګو نه فنا شوه .
دبقا جلوه شوه پورته په سما شوه

د برېښنا د ځرک ېشانې په خندا شوه
په ځير ځير وروته کتل ما

چې ،

څغه سپينه رڼا شوه
پورته تلله ؛ پورته تلله
د سکروټو سپرغۍ بيا په ما خورې شوې .
نور پوه نه شوم ؛ ايله د رمره غونډې پوه شوم .
د سرو وينو سمندر کې زه لاهو وم
زمانه و دواړه لاسه .
حق حيران شوم .
چې داولې ؟ په څه باندې ؟
ګنهکار او مجرم نه يم .
زه معصوم يم .
بې له مينې نه بل هيڅ نه پيژنم زه .
ولې دا وحشي خونخوار انسانان وژني ؟
سترې دي چې وينې وڅښي .
وږي دي چې غوښې وخوري
انسانان د دنيا ټول محوه نابود کړي

دا یواځې پاتې شي پدې جهان کې
دازما پښتان دسولې مرغۍ مرې کړې
چې خندا یې سوله غواړي دجهان ټول
الهه دعشق مې سوه ما داویلی
ماخندلی، ماخندلی

✢ ✢ ✢

کالیفورنیا هیورد
دروز روغتون
داپریل ۲۶ - ۱۹۸۷

غلامۍ دتورې شپې په سینه باندې
خنجر ښخ دازادۍ دسباوون دی

ازادۍ ته چې په وینو لمبیږ وایې
تورتم ځې دغه افق درڼاوون دی

دیاقوتو پشان سره دوینو څاڅکي
ازادۍ ته دشفق دزړه چاودون دی

یونیورسټي تهاون پېښور
دجنورۍ شلمه ١٩٨٧

په وږمه وبوږنېږمه د نسیم زه
شبنم پروت د ګل په پاڼه د سحر ووم
بې خبره پروت د ځان او د جهان ووم
بیده زه د پاکې مینې په بستر ووم
چې راویښ شوم سترګې ما وغړولې
غم ځپلی خونجګره یو بشر ووم

یونیورسټي ټاون پېښور
د جنورۍ شلمه ۱۹۸۷

په شپو، شپو باران کې مې داوښکو
دغضب ډک توفانونه دي غورځېږي
او سيلۍ مې دحسرت زړه کې دننه
دزخمي زړګي په وينو کې لمبېږي
دجنګونو خونړي پدې جهان کې
نېکمرغي غوښتې دسولې نه غوړېږي
په اسمان دازادۍ دزړه زما کې
راختلی لمر دسولې دی ځلېږي
په رڼا دپلوشو کې يې دننه
دانسان، انسانيت مينه خندېږي

يونيورسټي ټاون پېښور

ددسمبر پنځمه ١٩٨٦

# دازادۍ دجرس غږ

نغمه خوان دازادۍ دکوهسار یم
ازادۍ سره اشنا زه لهٔ فطرت یم
ودېځې تبنتي لهٔ پامیره لمر په خېږي
دجرس دازادۍ غږ د ملت یم
غلامۍ په ضد باغي او یاغي شوی یم
خوښ د داسې تقدس په بغاوت یم
دجنت وطن په خاوره سجده ږدمه
بت پرست نه یمه زه وطن پرست یم
ازادۍ د نور رڼا په هند وکښ ده
دوب شغلوکې مرغلره د زینت یم
دوطن دازادۍ دسولې کورکې
دزخمي ملت غوښتونکی دوحدت یم

پلوشې چې د سر وزر وېشان شیندي
دیما د تاج په سر لمر د نهضت یم
تل آزاد یم به آزاد چې خو جهان وي
پرورده د الاهي د طبیعت یم
چې ازاد وطن ته لاړ شم بیا آبادکړم
وبه وایم نو تې په جنت یم

* * *

د هیوردکتابخانه کالیفورنیا
د فروري څلورمه ۱۹۸۸

ګوربا چوف د بریژنف په غوږ کې ووېل
سر و فوځیانو دې خوړلې سختې ماتې

ننګین داغ یې د شکست په تندي باندې
دافغان وطن کې شه په تندې پاتې

په شکست دې رار وان دنیا یې وینې
ته یې ووینه پخپله یو ځل پاڅې

هیوورد کالفورنیا

دمی شلمه ۱۹۸۸

دغه ملک دخوشحالتیاندی دغم دی
دانسان ارزش دیو ډالرنه کم دی

شتمنی دوینو چښونکو څو کسانو
دازیاتیږي دلته بس دا یو رقم دی

دانسان دکرامت خبرې دلته
د ډالرد مخ جنت کې جهنم دی

هیورد کالیفورنیا
دمی دریمه ۱۹۸۷

# یوه ګلډاني خاوره

ستا دمینې تقدس ته مې سلام دی
ای وطنه دیما او د سو...!
ستا دغرونو په سرسرې لمبې داورې
د ښت دمن ددی د سروینو دریا
ازادی څراغ په وینوستا بلېږي
هر یوغرد ې کوه طور دی کړېږ ...
دجهان پرغلګران تاکې مات شوي
ې سنګر دازادی د آسیا
مسته مینه دهستي دازادی دی
د برېښنا خوله کې دسولې ده خندا
ستا دخاورو ذرو په ازادی کې
ځلېدونکی هستي ښکاري دبقا
دایوه ګلډانی خاوره ستا وطنه!
نه ورکومه یې تر له امریکا
هیورډ کالیفورنیا دمې پنځمه ۱۹۸۷

# دژنیود معاهدې توطیه!

دوب په وینو کې ولاړ چې افغانان دی
وریسې ټول دجهان یرغلګران دي
خوځولې چې هیڅوک نشي له ځایه
پښې ښخې ازادۍ د قهرمان دي
خنجر دوب دی د افغان ملت په زړه کې
د سرو وینو شیبې سختې د باران دي
دخونخواره یرغلګره روس د لاسه
کنډوالې کلي د ټول افغانستان دي
دژنیو معاهدې په توطیه کې
سیاسي غوټې پرتې پټې پنهان دی
چې تړون کې د روس نوم یاد شوی ندی
چل وته کې د روسانو د پلان دی
د لکونو افغانانو شهیدانو
څوک د دغو مظلومانو قاتلان دی؟

پهٔ نړیوالو کې شاهدان په هیڅوک نشته
بې له ځمکې او اسمان چې شاهدان دی

خو ټول جهان ته داد لمر پشان ښکاره ده
قاتلان د افغانانو چې روسان دی

ازادی خلی افغان دومره جنګ کړی
چې حیران ورپاتې ستوری د اسمان دی

د افغان تاریخ د برم تکرار یږي
د انګریز پشان مات شوی نن روسان دی

د افغان د ازادی خلی بیا ولید
پاریدلی چې جهان کې غلامان دی

امریکا د هیورډ عمومی کتابخانه
د جون شپا رسمه ۱۹۸۸

# دافغان دفرهنګ مرغلره

وای؛ وای ربه! څه په ژوندکې اورمه
ورکه مرغلره دفرهنګ مې شوه
زړه مې سوځي سترګې سرې قطرې امې شوې
دزړه په وینو هره اوښکه رنګ مې شوه
دا داژدها خوړلې ده
دا چې اژدها سره په جنګ مې شوه
جار قربان زرکونه (کوه نور) شرترې
دا چې قربانی دملي ننګ مې شوه
غیر دازادی ناوې کې پربوته
پاتې دجاوید ژوندون هڅنګ مې شوه
فخر وطن افغان ملت شوه خپل
ربه دازادی ناوې کلرنګ مې شوه
هیورډکالیفورنیا روزروغتون
دفروری دیارلسمه ۱۹۸۸

دپوهاند سید بهاالدین مجروح صاحب دشهادت خبر داوریدلو نه وروسته
ولیکل شه .

# لیکم تاته

ای زما دسترګو نوره!
ای معصوم کوچنی افغانه!
د پلار مور د زړګی سره
ای عمره! ډیره ګرانه
لیکم تاته دا خوفرده
نن کوچنی د سبا ځوانه
نن د روس خونخوار د لاسه
دافغان خونه ده ورانه
په باندو، کلیو، ښارونې
اور وریږي دا سمانه
ټول شنه غرونه او رغونی
د وطن شوله سوزانه
د سرو ویښو په دریاب کې
کشتۍ ډوبه ده روانه

د وطن مور زخمي شوی
وینې څاڅي د ګریوانه
د افغان او د روس جنګ ته
دا ولاړه ده حیرانه
یو خوا ټینک، توپ، طیاره ده
بل خوا زړه ډک د ایمانه
د افغان تاریخ د فخر
له پخوا دی درخشانه
چې پیرغلي په غلیم کړي
ټوټې، ټوټې شوی په میدانه
ستا ملت نه مغلوبیږي
دا ملت دی قهرمانه
د وطن نامدار فرزند شه
وطن سنبه کړه له ځانه
د ازاد ژوند په مشعل یې
خونه تل ساته روښانه

امریکا د هیوورډ لویه کتابخانه
دسپتمبر نهمه ۱۹۸۷